امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه



هفته نامه

# مدیریت حوادث

۳ الی ۸ قوس ۱۴۰۳

## شماره هشتاد و چهارم

## له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د هیلپ جرمنی مؤسسې ترمنځ د نږدې ۶.۵ شپږ نیم میلیونه ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي د هیلپ جرمنی مؤسیسې د پروګرامونو مدیر او مرستیال سید احمد بسیم ګیلانی سره په خپل کاری دفتر کې وکتل.

ترابي صاحب د هیلپ جرمنی موسسې مرستیال ته د ښه راغلاست ویلو ترځنګ وویل چې موږ ستاسو د مرستو هرکلی کوو او د مؤسیسو سره د همکارۍ په لټه کې یو ترڅو هغوی ته د لا ښه فعالیت زمینه برابره کړو  نوموړی همداراز وویل چې نه یوازې ستاسو تفاهم نامه به بې له ځنډه لاسلیک کړم  بلکې هغو ولایتی ریاستونو ته چې تاسو...

ادامه در صفحه۲

### له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغان ایډ مؤسیسې ترمنځ د (۷۱۵۵۱۹) اوه لکه پنځلس زره پنځه سوه نولس ډالر ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو دوې تفاهم نامې لاسلیک شوې



له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي په خپل کاری دفتر کې د افغان ایډ مؤسیسې د پروګرام مسؤل عبدالرحمن طارق او دپروژو مدیران همایون شیرزاد او نعمت الله وثیق سره وکتل...

ادامه در صفحه۳

### له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او کورډایډ مؤسیسې ترمنځ (۲۶۹۴۹۵) دوه لکه نهه شپیته زره څلور سوه پنځه نیوی ډالرو په ارزښت دګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه



دپیښو سره دمبارزې امادګۍ ملي ادارې  سرپرست الحاج ملانورالدین ترابي او کورډیډ مؤسیسې رئیس سید عبدالطیف بشر دوست او د اړیکو مسؤل منصور ابراهیم خیل سره په خپل کاری د فتر کی وکتل...

ادامه در صفحه۴

### سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث ۴۸ تن مواد خوراکی را از نماینده تاجر افغان مقیم مسکو تسلیم گرفت



د ترکیې هیواد لخوا د زمینې برابرولو او له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې محترم مقام د لارښوونې پر بنسټ، د دې ادارې لس کسه مرکزی او ولایتی رییسانو او کارکوونکو د پیښو او زلزلې مدیریت په اړه ورکشاپ...

ادامه در صفحه ۴

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د هیلپ جرمنی مؤسسې ترمنځ د نږدې ۶.۵ شپږ نیم میلیونه ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي د هیلپ جرمنی مؤسیسې د پروګرامونو مدیر او مرستیال سید احمد بسیم ګیلانی سره په خپل کاری دفتر کې وکتل.

ترابي صاحب د هیلپ جرمنی موسسې مرستیال ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ وویل چې موږ ستاسو د مرستو هرکلی کوو او د مؤسیسو سره د همکارۍ په لټه کې یو ترڅو هغوی ته د لا ښه فعالیت زمینه برابره کړو  نوموړي همداراز وویل چې نه یوازې ستاسو تفاهم نامه به بې له ځنډه لاسلیک کړم  بلکې هغو ولایتي ریاستونو ته چې تاسو پکښې پروژې لرئ هغوی ته به هم لارښوونه وکړم ترڅو ستاسو په کار کې هیڅ ډول خنډ رامنځته نه شي.

ورسته سید احمد بسیم ګیلانی  د هیلپ جرمنی موسسې مرستیال د دې ادارې د چټک کاری بهیر ستاینه وکړه او د یادې موسسې په اړه یې معلومات وړاندې کړل. هغه وویل چې هیلپ جرمنی موسسه په ۲۱ بېلابېلو هېوادونو کې فعالیت کوي، او یوه غیردولتي موسسه ده، او دا مهال د هېواد په لویدیځ زون کې فعالیت کوي.

د یادونې وړ ده چې د دې موسسې لخوا د نن ورځې د لاسلیک شوې تفاهم نامې له مخې، د ۶،۴۷۹،۳۹۸ ډالرو په ارزښت په لویدیځ زون کې له ۲۷۱۲۰ کورنیو سره نغدی او غیر خوراکی مرستې ترسره کېږي چې

له دې جملې، ۱۵۵۶۰ کورنیو ته به د هرې کورنۍ لپاره د ۱۵۸.۳۰ ډالرو په ارزښت مرسته په دوو مرحلو کې، د خلکو اړتیاوو ته په کتو سره، نغدی یا خوراکی او یا هم غیر خوراکی مواد ویشل کېږي. په دې توګه، ۴۸۳۶ کورنیو ته په هرات ولایت کې، ۳۱۱۲ کورنیو ته په فراه ولایت کې، ۴۵۰۰ کورنیو ته په غور ولایت کې، او ۳۱۱۳ کورنیو ته به په بادغیس ولایت کې مرستې وویشل شي.

همدارنګه، ۸۰۰۰ کورنیو ته د هرې کورنۍ لپاره د ۲۰۰ ډالرو په ارزښت د ژمی مرسته، د خلکو اړتیاوو ته په پام سره، په نغدی یا غیر نغدی توګه ویشل کېږي. په دې ډول، ۲۰۰۰ کورنیو ته په هرات ولایت کې، ۱۵۰۰ کورنیو ته په فراه ولایت کې، ۲۲۵۰ کورنیو ته په بادغیس ولایت کې، او ۲۲۵۰ کورنیو ته به په غور ولایت کې مرستې وویشل شي.

په همدې حال کې، ۳۵۶۰ کورنیو ته د هرې کورنۍ لپاره د ۲۰ ډالرو په ارزښت د ښځو ځانګړې یوه بسته ویشل کېږي، چې په دې کې ۱۵۰۰ کورنیو ته په هرات ولایت کې، ۶۶۰ کورنیو ته په فراه ولایت کې، ۷۰۰ کورنیو ته په بادغیس ولایت کې، او ۷۰۰ کورنیو ته به په غور ولایت کې مرستې وویشل شي.

د یادونې وړ ده چې دا پروژه به د دوو کلونو په موده کې په یادو ولایتونو کې پلی کېږي.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغان ایډ مؤسیسې ترمنځ د (۷۱۵۵۱۹) اوه لکه پنځلس زره پنځه سوه نولس ډالر ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو دوې تفاهم نامې لاسلیک شوې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په خپل کاری دفتر کې د افغان ایډ مؤسیسې د پروګرام مسؤل عبدالرحمن طارق او دپروژو مدیران همایون شیرزاد او نعمت الله وثیق سره وکتل.
ترابی صاحب د یادې مؤسیسې پلاوی ته ښه راغلاست وویل او څرګنده یې کړه چې په هېواد کې د ټولو مؤسیسو لپاره د بشری فعالیتونو زمینه برابره ده او موږ هڅه کوو  چی  په هر ولایت کې چې مؤسیسه فعالیت کوی د هغوی لپاره د همکاری زمینه  لا نوره هم برابره کړو.
او موږ خپلو ټولو ولایتی رئیسانو ته  لارښوونه کړې ده چې له مؤسیسو سره هر نوع همکاری وکړی ترڅو د هغوی ستونزې پر وخت حل سی.
ورسته د افغان ایډ مؤسیسې دپروګرام مسؤل عبدالرحمن طارق له مؤسیسو سره ددې ادارې د  پوره همکارۍ له امله خوښی څرګنده کړه او زیاته یې کړه چې دا مؤسیسه د افغانستان خلکو ته د ۴۳ کالو راهیسی په بېلابېلو برخو کې د مرستو رسولو لپاره کار کوی او هڅه کوی چې دا مرستې په خپل وخت اړمنو خلکو ته ورسوی.
د یادونې وړ ده چې د لومړۍ تفاهم نامې له مخې به د ۶۴۲۳۷۹ ډالرو په ارزښت په غور ولایت فیروزکو،دولت یار، چهار صده، دولینه او شهرک په ولسوالیو کی ۱۷۵۲ زیانمنو کورنیو ته د دسون توکو او ګرمونکو جامو لپاره ۲۰۰ نغدی ډالره ورکول کیږی د ۱۷۵۲ کورنیو له جملې څخه ۷۳۲ کورنیو ته دژمینو ګرمو جامو د رانیولو لپاره هری کورنۍ ته ۷۴ نغدی ډالره ورکول کیږی او ۷۳۲ کورنیو ته د ۵۷ ډالرو په ارزښت ۵ تختی کمپلی ورکول کیږی.
همداراز د دویمې تفاهم نامې له مخې به د ۷۳۱۴۰ ډالرو په ارزښت په سمنګان ولایت په خرم او سارباغ ولسوالیو کی ۱۴۷  کورنیو ته دژمنیو بستو ویشل چی پکښی  ۵ تختې کمپلې چی ۴ دانی دوه کیلویی او 1 دانه څلور کیلویی دی، دوه دانې د نارینه  پټوان، دوه دانی ښځینه  شالونه، ۵ دانې د ماشومانو جاکټونه، ۱۲ جوړې جورابې، ۴ جوړې دستکشې، دوه دانې نارینه  جاکټونه، ۴ دانې د ماشومانو خولی ګانې، دوې جوړې نارینه بوټونه، ۴ جوړې د ماشومانو بوټونه  او د ۲۰۰ امریکایی ډالرو په ارزښت د سوند لرګی شامل دی

## له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او کورډایډ مؤسیسې ترمنځ (۲۶۹۴۹۵) دوه لکه نهه شپیته زره څلور سوه پنځه نیوی ډالرو په ارزښت دګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه




دپیښو سره دمبارزې امادګۍ ملی ادارې  سرپرست الحاج ملانورالدین ترابی او کورډیډ مؤسیسې رئیس سید عبدالطیف بشر دوست او د اړیکو مسؤل منصور ابراهیم خیل سره په خپل کاری د فتر کی وکتل.

ترابی صاحب راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړل چی موږ غواړو چی په افغانستان کی مؤسیسې افغانانو ته اساسی کارونه وکړی او دفقر او بی وزلۍ څخه یی وژغوری.

همداراز یې زیاته کړل چی موږ تل د مؤسیسو کارونه پر وخت ور خلاصوو  او مؤسیسو ته یی هم وویل چی باید  ژر تر ژره خپل مرستی اړمنو او مستحقو کورنیو ته ورسوی.

د کورډایډ مؤسیسې رئیس سید عبدالطیف منصور وویل چی یاده مؤسیسه د افغانستان په ډیرو ولایتونو کی فعالیت کوی   او تر دا مهاله یې افغان اولسونو ته بیلابیل خدمتونه وړاندی کړی دی او دوام لری.

دیادونی وړ ده چی ۲۶۹۴۹۵ ډالرو په ارزښت د ننګرهار ولایت په ګوشتې ولسوالۍ کې د ۱۳۲۰ وچکالۍ ځپلو کورنیو او مهاجرینو سره نغدی مرسته کوی چې هرې کورنۍ ته به ۱۶۰ امریکایی ډالره یا د هغه معادل افغانۍ په ۴ قسطونه کی د ۴ میاشتو په جریان کې ورکړل شی چی هر قسط ۴۰ امریکایی ډالره وی.

## سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث ۴۸ تن مواد خوراکی را از نماینده تاجر افغان مقیم مسکو تسلیم گرفت



الحاج ملا نورالدین ترابی، سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ۴۸ تن مواد خوراکی را از نزد نماینده تاجر افغان مقیم مسکو، جهت مساعدت برای متضرران ناشی از حوادث در کابل تسلیم گرفت.

ترابی صاحب در جریان دریافت این مواد در حضور خبرنگاران گفت که امروز مقدار ۴۸ تن مواد خوراکی از طرف حاجی نادرشاه رئیس افغان بزنس سنتر مقیم مسکو، برای این اداره تسلیم داده شد که شامل آرد، برنج و روغن می‌باشد و برای ۶۰۰ خانواده متضرر و مستحق توزیع می‌شود.

وی هم‌چنان گفت که این کمک نخست از سوی این تاجر نیست بلکه در گذشته نیز چنین کمک‌های از طریق اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث برای مردم انجام داده است.

سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث در کنار این‌که از شفایت در روند توزیع مساعدت برای متضرران یاد آوری کرد، شماره تیلفون شخصی خود را از طریق رسانه‌ها برای مردم اعلان کرد و گفت در صورت مشاهده هر نوع دستبرد در روند کمک رسانی از سوی کارمندان این اداره با شخص خودم به تماس شوید.
آقای ترابی در اخیر از نهادهای ملی و بین المللی خواست تا با توجه به اثرات بد تغیرات اقلیمی بالای زندگی مردم، کمک‌های خود را ادامه داده و آن را افزایش دهند.

## له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د DRC مؤسیسې د سرپرست رئیسی سره وکتل



له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملې ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی د DRC مؤسیسې د سرپرست رئیسی اغلی هانا او راغلې پلاوی سره په خپل کاری دفتر کی وکتل.
ترابې صاحب له هرڅه وړاندی د DRC پلاوی ته ښه راغلاست وویل او زیاته یې کړه چې DRC مؤسیسې تل زموږ سره دماین پاکۍ او په اړندو برخو کی مرستی کړی دی موږ ورڅخه ځانګړی مننه کوو او په راتلونکی کی یی هم پر ګډو همکاریو ټینګار وکړ.
ترابی صاحب وویل چې موږ غواړو چې ستاسو په همکارۍ د کابل په ښار کی ۵۱ عدد هغه خطرناکه ډبری چې په سلګونو کورونه یی تر تهدید لاندی نیولی دی او دخطر تر ګواښ لاندی دی نو موږ غواړو چې دا ډبری ستاسو دموسسی په توسط په خوندی ډول دمنځه یوسو ترڅو خلګ دځانی او مالی زیان څخه وژغورل سی او په ارامه ژوند وکړی.
د DRC مؤسیسې سرپرست رئیسی هانا له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې دسرپرست څخه مننه وکړه چې موږ ته مو وخت راکړ او زیاته یی کړه چې یادی ادارې تل زموږ سره په طبعی او غیر طبعی پیښو کی زیاته همکاری کړی ده او موږ به تل هڅه کوو چې ددې ادارې سره همکاره پاته سو.
هانا زیاته کړه چې تاسو موږ ته د هغو خطرناکو ډبرو لوکیشن او عکسونه راولیږی چې تر خطر لاندی دی ترڅو زموږ تخنیکی ټیم یی هم سروې کړی او هڅه به وکړو چې دا ډبری دمنځه ویوسو ترڅو خلګ او کورونه دخطر څخه په امن کی سی.

# له پیښو سره د مبارزې امادګۍ ملي ادارې او رازی پراختیایي او ټولنیزی مؤسیسې تر منځ د ۱۱۵۹۰۸۸ یو میلون یو لک نهه پنځوس زره اته اتیا ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملې ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی د رازی پراختایی او ټولنیزی مؤسیسې درئیس محمود خان رحمانی سره په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ترابی صاحب د رازی پراختایی او ټولنیزی مؤسیسې رئیس ته دښه راغلاست ترڅنګ وویل چی خوښ یو چی نن یو داسی تفاهم نامه لاسلیک کوو چی په هغه سره زموږ اولس ته بیلابیلی مرستی رسول کیږی او دیادی موسیسې د ټول کاری ټیم څخه یی ځانګړی مننه وکړه او وویل چی یادی مرستی باید جاری وساتی ترڅو اولس مو دخدماتو څخه برخمن سی

او زیاته کړل چی دټولو موسیساتو او سازمانونو څخه مو غوښتنه داده چی د طبعی او غیری طبعی پیښو پر وړاندی د مبارزی او وقایی په برخه کی لازمی همکاری وکړی

دیادی مؤسیسې رئیس محمود رحمانی  له پیښو سره د مبارزې امادګۍ ملی ادارې د سرپرست څخه مننه وکړل چی له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره زموږ کارونه بیله ځنډه راته خلاصوی او د یادې ادارې دټول کار ټیم څخه یې مننه وکړل او ترڅنګ وویل چی دیادی ادارې سره باید بیلابیل موسیسات او نړیوال سازمانونه د طبعی او غیری طبعی پیښو پر وړاندې مرسته وکړی.

دیادونی وړه ده چی یاده موسسه د ۱۱۵۹۰۸۸ یو میلون یو لک نهه پنځوس زره اته اتیا ډالرو په  د ۱۵۵۶۰ کورنیو سروې کوی او زیانمنی کورنۍ انتخابوی چی ورسته چی هره کورنۍ ته ۱۵۸.۳۰ امریکایی ډالر یا د هغه معادل افغانۍ ورکوی چی د هرات په ولایت کی ۴۸۳۶ کورنۍ، د فراه په ولایت کی ۳۱۱۲ کورنۍ، د غور په ولایت کی ۴۵۰۰ کورنۍ او د بادغیس په ولایت کی ۳۱۱۲ کورنۍ په نظر کی نیول شوی دی.

۲- د ۸۰۰۰ زیانمنو کورنیو سروې کوی چی هره کورنی ۲۰۰ امریکایی ډالر یا د هغه معادل افغانۍ ورکوی چی  د هرات په ولایت کی ۲۰۰۰ کورنۍ، د فراه په ولایت کی ۱۵۰۰ کورنۍ، د غور په ولایت کی ۲۲۵۰ کورنۍ او د بادغیس په ولایت کی ۲۲۵۰ کورنی په نظر کی نیول شوی دی.

۳- د ۳۵۶۰ کورنیو سروې کوی  چی هری کورنۍ ته یوه ښځینه صحی بسته ورکړی  چی د هرات په ولایت کی ۱۵۰۰ کورنۍ، د فراه په ولایت کی ۶۶۰ کورنۍ، د غور په ولایت کی ۷۰۰ کورنۍ او د بادغیس په ولایت کی ۷۰۰ کورنۍ په نظر کی نیول شوی دی

نوټ : د یادونی وړ ده چی د سروی او زیانمنو کورنیو انتخابول د رازی مؤسیسی لخوا کیږی او نغدی او غیرنغدی پیسې به  (د هلب جرمنی موسسی) لخوا ورکړل سی

په ورستیو کی داوړو لورو لخوا تفاهم نامه لاسلیک سوه او پر ګډو همکاریو دداوم غوښتنه وسوه.

## له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست او د افغانستان لپاره د بیا ودانولو پرمختایی مؤسیسې تر منځ د (۳۷۳۲۹) اوه دیرش زره دری سوه نهه ویشت ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک کړه




له پیښو سره د مبارزی آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی او د بیا ودانولو پرمختایی مؤسیسې رئیس محمد داود تکل او د اپریشن مسؤل هدیت الله مصباح سره په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ترابی صاحب له هرڅه وړاندی راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړه چې دژمی په راتګ سره طبیعی او غیری طبیعی پیښی زیاتیږی باید ټولی مؤسیسې چمتوالۍ ولری تر څو پر وخت اړمنو خلګو ته دکومک لپاره رسیدنه وکړی.

همداراز ترابی صاحب وویل چی مؤسیسې باید  په لنډ وخت کی سروې وکړی او مرستی ژر تر ژره تر اړمنو خلګو ورسوی ترڅو پر وخت دیادو مرستو څخه برخمن سی.

د افغانستان لپاره د بیا ودانولو پرمختایی مؤسیسې رئیس محمد داود تکل وویل چی ۳۱ کاله کیږی چی زموږ موسیسه په بیلابیلو برخو کی دخلګو سره مرستی کوی او هڅه کوی چی یادې مرستی نوری هم جاری وساتی او د ترابی صاحب یې ځانګړی مننه وکړه چی کارونه پر وخت ورته خلاص سوی.

دیادونی وړ ده چی یاده موسیسه د ننګرهار ولایت په ګوشتې ولسوالۍ کې  ۳۷۳۲۹ اوه دیرش زره دری سوه نهه ویشت ډالرو په ارزښت د ۱۳۲۰ وچکالۍ ځپلو کورنیو سره تر سروې وروسته نغدی مرسته کوی و هرې کورنۍ ته به ۱۶۰ امریکایی ډالره یا د هغه معادل افغانۍ په 4 قسطونه کی د ۴ میاشتو په موده کی ورکړی چی په هر قسط کی به ۴۰ امریکایی ډالره ورکړل شی.

د یادونی وړ ده چی سروی او د زیانمنو کورنیو انتخاب به د افغانستان لپاره د بیا ودانولو او پرمختیایی مؤسیسی لخوا چی ددې پروژی شریکه ده ترسره کیږی او نغدی او غیرنغدی پیسی به (کوردید) مؤسیسې لخوا ورکړل سی.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰ ټپیانو کسانو ته نغدی مرستې ووېشلې



د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د DRC موسسې په مالي ملاتړ, د ناچاوده توکو له امله ۲۰ ټپیانو کسانو ته نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د یادو کسانو د ټپي کېدو کچې ته په کتو هر کس ته له ۸۰۰۰ نه تر ۳۵۰۰۰ افغانۍ  پوری نغدي پیسې چې په مجموعي ډول ۴۴۰۹۵۰ افغانۍکېږي, ۲۰ ټپیانو ته ووېشل شوې.

# سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث هماهنگ کننده‌گان کلستر سرپنا دیدار کرد



الحاج ملا نورالدین ترابی، سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با خانم سوسن ساد و ایرین موتیو هماهنگ کننده‌گان کلستر سرپنا و محمد هاشم نیازی معاون همانگ‌کننده این کلستر در دفتر کاری خود دیدار کرد.
محترم ترابی صاحب هیئت کلستر سرپنا را خوش‌آمدید گفته و بیان داشت که همکاری با موسساتی که در هر بخش و در هر ولایت برای مردم خدمات ارایه می‌کنند وظیفه ما است.
وی همچنان در کنار اینکه اضافه کرد که موسسات باید مطابق نیاز مردم و به صورت متوازن برای نیازمندان و متضرران کمک نمایند گفت که ما شما را همکاری می‌کنیم و شما ما را همکاری نماید تا برایم مردم کشور بهترین خدمات را ارایه کنیم.
در همین‌حال سوسن ساد، هماهنگ کننده این کلستر IOM گفت که کمک‌ها بر اساس کتگوری‌های مختلف در ساحات مختلف اولویت بندی می‌شود که مناطق نهایت سرد، سیلاب‌زده و متضرران حوادث، عودت‌کننده‌گان بی‌سرپناه و افراد شدیدا در معرض فقر به ترتیب اولویت بندی شده اند.
هم‌چنان محمد هاشم نیازی، معاون کلستر سرپنا-IOM در کنار این‌که از سرپرست اداره تشکری کرده و گفت که ما واقعا از شما و همکاران مرکزی و ولایتی تان سپاس گذری می‌کنیم که با همکاران ما همکاری کامل داشته اند، در مورد فعالیت‌های این کلستر در قسمت کمک‌های زمستانی معلومات ارایه کرده و گفت که ما برنامه داریم که برای ۱.۳ میلیون نفر در زمستان پیشرو کمک زمستانی انجام دهیم که تا اکنون برای ۱۰۰,۰۰۰ نفر این کمک‌ها رسیده و از مجموعی بودیجه که برای این پلان در نظر گرفتیم ۲۰,۹ میلیون دالر آن بدست آمده و ۵۸.۲ میلیون آن تا هنوز دریافت نشده و تلاش داریم تا این مبلغ را دریافت کنیم و پلان خود را تا اخیر سال روان تطبیق کنیم.
هم‌چنان ایرین موتیو، هماهنگ‌کننده کلستر سرپناه-UNHCR نیز بیان کرد که تمام پارتنرهای ما از همکاری‌های اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث خرسند هستند و تیم‌های ما بر سروی خود را انجام می‌دهند و بر اساس نیاز مردم کمک‌های زمستانی را که شامل تهیه مواد سوخت، البسه گرم زمستانی و کمپل می‌باشد برای آنان توزیع می‌کنند.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست او د ډافا مؤسسې ترمنځ د (۱۹۳۹۷۸) یو لک دری نیوی زره نهه سوه اته اویا ډالرو په ارزښت تفاهم نامه لاسلیک سوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابی په خپل کاری دفتر کې د ډافا مؤسیسې د رئیس عبدالواحد نوری او د اړیکو مسؤل عبدالرحیم قیومی سره وکتل.
ترابی صاحب په خپلو خبرو کې د ډافا مؤسیسې راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړه چی ماینونه او ناچاودی توکی د خلګو لپاره یو ستر ګواښ دی چی باید خلګو ته عامه پوهاوی ورکول سی او ماینونه د منځه یوړل سی.
همدااراز یی وویل چی دا ماینونه باید ژر تر ژره له منځه ویوړل سې ځکه دا مس عینک ملی پروژه د هیواد لپاره یو مهمه او ارزښتمنه پروژه ده باید هغه ګواښونه ختم کړو چی دا پروژه یی دخنډ او ځنډ سره مخ کړی ده.
ورسته د ډافا مؤسیسې رئیس عبدالواحد نوری د ترابی صاحب څخه ځانګړی مننه وکړه چی وخت یی راکړ او زیاته یی کړه چی یادی ادارې تل زموږ سره همکاری کړی ده او موږ هم تل کوښښ کوو چی هغه ماینونه دمنځ یوسو چې د خلګو کارونه یې د خنډ سره مخ کړی دی.
دیادونی وړ ده چی د ۱۹۳۹۷۸ یو لک دری نیوی زره نهه سوه اته اویا ډالرو په ارزښت یاده مؤسیسه په کابل ولایت خاکجبار ولسوالۍ دبتو خیلو کلی د مس عینک پروژه کی ۴۶۷۷۷۵ متره مربع ککړی سیمی د ماینونو او ناچاوده توکو څخه پاکی کړی دی تر څو د مس عینک پروژې کارمندان په محفوظ ډول خپل کارونه مخ ته ویسې.

---

## د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰۰ کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې



د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د تېرو مرستو په دوام دا ځل ۲۰۰ بېوزله کورنیو، معیوبینو او کونډو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو غنم، ۵ قطعې شیدې، ۲ تختې کمپلې او یو روغتیایی کېټ له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، د ولایت مقام استازی، د اقتصاد ریاست استازی او د کډوالو چارو ریاست استازی په شتون کې ووېشل شول.

## امضای تفاهم‌نامه همکاری‌های مشترک میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه هندیکپ اینترنشنل به ارزش مبلغ ۸۶۳۵۲۱ دالر




محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، در دفتر کاری خود با آقای کریستوفر رئیس مؤسسه هندیکپ اینترنشل، یوبان مالا مسئول عملیاتی و حبیب‌الرحمن ابراهیمی مسئول ارتباطات این موسسه دیدار و تفاهم‌نامه‌ای به ارزش مبلغ ۸۶۳۵۲۱ دالر را با موسسه مذکور امضا کرد.

ترابی صاحب ضمن خوش‌آمدگویی به هیئت مؤسسه هندیکپ اینترنشنل، از همکاری‌های گذشته این مؤسسه قدردانی کرد و اطمینان داد که اداره ملی مبارزه با حوادث، آماده هرگونه همکاری در آینده نیز است. وی ابراز خرسندی کرد که این تفاهم‌نامه به منظور بهبود خدمات بشردوستانه در کشور به امضا رسید.

هم‌چنان کریستوفر رئیس مؤسسه هندیکپ، از حمایت‌های اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث تشکر کرده و تأکید کرد که این مؤسسه همچنان به ارائه خدمات لازم در راستای مأموریت‌های بشردوستانه خود ادامه خواهد داد.

شایان ذکر است که براساس این تفاهم‌نامه، مؤسسه هندیکپ اینترنشنل در ولایت هرات و مراکز ولایت‌های بادغیس، غور و نیمروز خدماتی همچون آماده‌سازی انبارهای ذخیره‌سازی مواد برای سازمان‌های بشردوستانه، ارائه خدمات حمل‌ونقل مواد مساعدتی از هرات به ولسوالی‌ها و ولایت‌های همجوار و ارتقای ظرفیت کارکنان داخلی پروژه‌ها را اجرا خواهد کرد.

## د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۳۲ شهیدانو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، ۳۲ کورنیو ته چې د کورنۍ غړي يې د طبیعي او غیرطبیعي پېښو له امله له لاسه ورکړي وو، له سروې او تثبیت وروسته یادو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د خوست ولایت مرستیال الحاج مولوی محبوب شاه قانت او د یاد ریاست سرپرست مولوی عبدالقیوم ثابت په شتون کې د هر شهید کورنۍ ته ۴۰۰۰۰ افغانۍ او په مجموعي توګه ۱،۲۸۰،۰۰۰ افغانۍ نغدي پيسې ووېشل شوې.

ورته مهال د شهیدانو کورنیو له اسلامی امارت څخه په ځانګړې توګه له ولایتی مسؤلینو څخه مننه او خوښی څرګنده کړه او د اسلامی نظام د بقا لپاره یې دعا وکړه.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۰ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د نه آنلوس موسسې ترمنځ د هوکړه لیک له مخې،
د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ د نهمې ناحیې اړوند ۸۰ زیانمنو او اړمنو کورنیو نغدی مرستې ووېشلې.
دا لړۍ د کابل ولایت پېښو ته د رسېدنې آمر ملا محمد حسین او د یادې موسسې مسؤلینو په شتون کې پیل شوه او هرې کورنۍ ته د لومړی قسط ۱۰۰ ډالر ووېشل شول او د راتلونکې قسط ۱۰۰ ډالر به هم هغوی ته ووېشل شی.

## د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶ میلیونه ۲۴۳ زره او ۶۰۰ افغانۍ نغدی پیسې ۳۶۳ زیانمنو کورنیو ته ووېشلې



د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان IOM په مالی ملاتړ، په یاد ولایت کې د سختو بارانونو له امله ۳۶۳ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د هرې کورنۍ لپاره ۱۷۲۰۰ افغانۍ ورکړې او په مجموع کې ۶,۲۴۳,۶۰۰ (۶ میلیونه ۲۴۳ زره او ۶۰۰) افغانۍ نغدی پیسې یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شوې.

## د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۹۴ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې



د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت په بهارک، خاش او مرکز فیض آباد کې زیانمنو شویو ۱۹۴ کورنیو ته له سروې وروسته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې ۵۰ کورنۍ د بهارک ولسوالۍ اړوند، ۴۰ کورنۍ د خاش ولسوالۍ اړوند او ۱۰۴ کورنۍ د فیض آباد اړوند وې، او هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۲۵ کیلو وریجې، ۵ لیتره غوړی، ۲ جوړه جمپرونه، ژمنۍ جمپر، ۲ تختې کمپلې او یوه تخته روجایی ووېشل شوه.

## د پروان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست له ۳۰۵ زیانمنو او اړمنو کورنیو سره نغدی او غیرخوراکی مرستې وکړې




د پروان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان په مالی ملاتړ، د شینواری، سیاگرد، شیخ علی، سرخ پارسا، بګرام، جبل السراج، سیدخېل، سالنګ، کوه صافی ولسوالیو او چاریکار ښار اړوند د طبیعی پېښو له امله ۳۰۵ زیانمنو، کډوالو او اړمنو کورنیو ته په مجموعی توګه ۵,۲۴۶,۰۰۰ افغانۍ نغدی پیسې ووېشلې.
یاد شمېر کورنۍ له سروې او تثبیت وروسته له پېښو سره د مبارزې ولایتی کمېسیون او د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) د پلاوی له لوری مستحقې پېژندل شوی وې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۱۷۲۰۰ افغانۍ او ۱۸ قلمه توکی لرونکی یو ژمنۍ کېټ ووېشل شو.

## د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست په شولګره ولسوالۍ کې ۹۷ سېلاب ځپلو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې

د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د UNICEF, IOM,WFP, AFGA, UNFPA موسسو او د کلیو پراختیا ریاست په همغږۍ, په تاجک, ایلتن او جر محمد کریم کلیو کې د وروستیو سېلابونو له امله ۹۷ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.
په دې مرستو کې د یاد ریاست رییس مولوی بشیر احمد بشرانی په شتون کې هرې کورنۍ ته د WFP له لوری ۲۰۰ کیلو اوړه, ۲۵ کیلو دال, ۱۸.۲ کیلو غوړی, ۴.۵۳ کیلو پلمپی, ۲ کیلو مالګه او ۲.۱ کیلو بسکېټ, د IOM له لوری هرې کورنۍ ته ۳ تختې کمپلې, سولری څراغونه, یو تخته ترپال او ۱۲ کورنیو ته چې ډېرې زیانمنې شوی وې هغو ته د یو باب خیمه, یو باب د بخار دیګ, د پخلنځی توکی, چاینکه, ګېلاس, سطل, چاقو, د ګاز ډبه, ځان پاک, روی پاک, د ماشومانو جامې او اړین توکی, د UNFPA موسسې له لوری ۱۲ جوړه جورابې او یو بیګ, او د AFGA او د کلیو پراختیا ریاست له لوری شامپو, صابون, چادر, د کالومنځلو پوډر او نور اړین توکی ووېشل شول.




## د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۱۳ سېلاب ځپلو کورنیو ته غیرخوراکی مرستې ووېشلې




د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان(IOM) په مالیـ ملاتړ, د وروستیو سېلابونو له امله ۱۳ زیانمنو کورنیو ته غیرخوراکی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د پخلنځی توکو یو کېټ, د سرپناه د ترمیم یو بېړنۍ کېټ, یو فامیلی کېټ, سولری څراغ او ۲ تختې کمپلې ووېشل شوې.